حبیب مایار ۲۰۱۰/۰۳/۱۲م

# له وینا مو ښکاري ورکه مو راغلې

ښوونځی زما سوزول کېږي، کلینیك او روغتون زما ورانېږي، مشران زما وژل کېږي، په کورونو زما بمبار کېږي، د طالبانو له خوا د جاسوسانو او د بهرنیو د همکارانو په نوم زما د کورنی غړي وژل کېږي، د یوې ولسوالی د یو سړك د جوړېدو په سر زما او یا کسان وژل کېږي، له زده کړو زه بې برخې یم، په ملي اردو او پولیسو کې زما برخه په نشت حساب ده، خو زه په خپله هم نه پوهېږم چې دا ولې؟

او دا ولې کورني او بهرني کسان ما رټي؟

دا ولې د هالبروك په شان د امریکا رسمي استازي زما د هر کور نړېدو ته لاره اواروي؟

دا ولې هره ورځ په یو او بل نوم وژل کېږم؟

دا خو به خامخا یو ځواب ولري؟

هالبروګ ولې زما هرې کورنی ته د طالب او د دولت د مخالف په سترګه ګوري؟

ایا کرزی، رحیم وردګ، حنیف اتمر، زاخېلوال، احدي، اشرف غني، فاروق وردګ، او داسې نورې څېرې چې د همدې دولت له لویو چارواکو څخه شمېرل کېږي پښتانه نه دي او هولبروګ دوی هم د طالبانو په ډله کې شمېري؟

ایا د افغانستان ۶۰ سلنه خلك باید ووژل شي، ځکه چې دوی ټول پښتانه او طالبان دي؟

خو نه داسې نه ده ټول پښتانه طالبان نه دي او نه هم ټول طالبان پښتانه دي، ځکه چې د طالبانو په تېره دوره کې دویم لوی ځواك د بدخشان و، ایا هغوی هم پښتانه دي؟

که چېرې د بهرنیانو هر فکر، هر نظر او هره کړنه د هالبروك په شان وي نو لرې نه ده چې په ډېر نژدې وخت کې به له دې هېواد څخه خپله کمپله ور ټوله کړي، ځکه چې که دوی په پښتون قوم پسې هر څه وایي، دا د دوی خپل نظر دی. خو دا ټولې نړۍ ته معلومه ده چې پښتون د سولې، ملي پخلاینې، مینې او ورولی قوم دی، همدې قوم هر وخت په هېواد ولسمشري کړې خو په هېواد کې هر بل مېشت قوم ته یې د ورور په سترګه کتلي، نه په داسې ډول چې نن ورځ یې هولبروك وایي او نوموړی غواړي چې په دې ډول د هېواد په لراوبر کې قومونه په جنګ، جګړو بوخت کړي.

دا چې د نوموړي دا څرګندوني له منطق څخه ډېر واټن درلود او ټولو هېوادوالو د نوموړي دا څرګندوني وغندلې، له همدې امله نوموړی بېرته غواړي چې خپلې خبرې ترمیم کړي او وایي چې زما نظر داسې نه و او ما په دې ډول نه وو ویلي، نوموړي په یوې اعلامیې کې چې په کابل کې د امریکا د سفارت له خوا خپره شوې ده، د خپلو هغو څرګندونو په هکله توضیحات ورکړي، نوموړي څرګنده کړې: ما ویلي و چې د هر پښتون کورنی یو غړی د طالبانو په لیکو کې دی ما په حقیقت کې غوښتل چې د ولسمشر کرزي پر هغې وینا تبصره وکړم چې په استانبول کې یې کړې وه. ښاغلي کرزي ویلي وو ټول هغه طالبان چې په تروریستي شبکو پورې تړاو نه لري او یا د القاعده شبکې غړي نه دي د افغان ولس بچیان دي. هالبروك وایي، زما هدف دا نه و چې ووایم ټول پښتانه طالبان دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د يوه استازي له خوا دا د شرم خبره ده چي د يو هېواد د ابادئ او هلته د يووالي او سولي د رامنځ ته کولو په ځای له داسي کړنو څخه کار واخلي چي هلته د بي اتفاقی او تاوتريخوالي لامل وګرځي، که چېرې امريکا د خپلو استازو په ټاکنه او همدارنګه په خپلو اوسنيو تګلارو کي بدلون رانه ولي نو په ډېره نژدې کي دې خپل برخليك د روسيي په شان وشمېرې، ځکه د دوی له ويناوو ښکاري چي ورکه يې راغلي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ